اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولئ اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله جَلَّ جَلَالُهٗ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

طالب غم
مدینه بقیع
ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالې نوم: د بدې خاتِمې اَسباب

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامې وې يا پاڼړې کمې وې يا په بائنډِنګ کښې مخکښ وروسته لګيدلې وې نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

www.dawateislami.net

# د بدي خاتِمي اَسباب

د شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا رِساله "برے خاتمے کے اسباب" په اردو ژبه کښې ليکلې شوي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمې، زياتي اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

# فهرست


د بدې خاتِمې اَسباب ........................................ 1

د درود شریف نه لوستلو مُصیبت ........................................ 1

د خوب لیدو په وجه چا ته کافِر نه شې وئیلې ........................................ 1

د دُرود په ځائ ؐ لیکل ناجائزه دي ........................................ 2

میری فضول گوئی کی عادت نکالدو ........................................ 3

د رِعایت نه فائده واخلئ ........................................ 3

پڑھ لئے جس نے دل سے چار٤ سلام ........................................ 4

د بدې خاتِمې څلور اسباب ........................................ 4

ناتُواں کے سر پہ اتنا بوجھ بھاری واہ واہ ........................................ 5

د درې عیبونو د سپیره والي حِکایت ........................................ 5

د سپو په شکل کښې حشر ........................................ 7

د چغلئ تعریف ........................................ 8

آیا مونږه د چغلئ نه ځان ساتُو؟ ........................................ 8

د حَسَد تعریف ........................................ 10

د حَسَد د تعریف په آسانو الفاظو کښې خُلاصه ........................................ 11

د سَیِّدی قُطبِ مدینه حِکایت ........................................ 11

ما دیوانه جوړ کړې ستا ، یا نبی تاجدارِ مدِینه ﷺ ........................................ 12

د دوه اَمرَد خوښوونکو مُؤَذِّنانو بربادي ........................................ 13

د خپلوانو د خپلوانو نه پرده ........................................ 14

اَمرَد [یعني بې ږِیرې هلك] ته په شهوت کتل حرام دي ........................................ 14

د اَمرَد سره اَویا شیطانان ........................................ 15

حج نه ادا کول د بدې خاتِمې سبب دې ........................................ 16

د اذان په دوران کښې د خبرې کولو والا د بدې خاتمې یَره ........................................ 17


www.dawateislami.net

د اذان جواب ورکوونکې جَنَّتي شو.......................................17
مگر اے عَفُو تِرے عَفْو کا تو حِساب ہے نہ شُمار ہے..........................18
اور راباندې راځي.........................................................18
په تاپ تول کښې د کمې کولو عذاب .................................19
د يو شيخ بده خاتِمه ..................................................20
د فرښتو سابِقه اُستاذ.................................................20
شيطان د مور او پلار په شکل کښې ................................21
د مرگ د تکليفونو يو څاڅکې ..........................................21
شيطان د دوستانو په شکل کښې..................................22
زمونږه به څه انجام کيږي ..............................................23
ژبه په قابو کښې ساتئ ..................................................24
د ښې خاتمې د پاره مَدَني گلونه .....................................25
په اِيمان باندې د خاتِمې څلور وظيفې .................................26
د اور صندوق ...........................................................27
د سرکارِ مدينه ﷺ ژړا فرياد .......................................30
د مور سترگې بِينا شوې..................................................30


www.dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د بدي خاتِمي اَسباب[1]

شیطان به غالباً تاسو دې رسالې لوستلو ته نه پرېږدي د شیطان د خطرناکو حملو د معلوماتو حاصلولو د پاره د اول نه تر آخره پورې دا رساله لوستل ډېر فائده مند دی.

## د درود شریف نه لوستلو مُصیبت

منقُول دي چه، یو کس د وفات کیدو نه پس چا په خوب کښې په داسې حالت کښې اولیدو چه د مجُوسیانو (یعني د اور د عبادت کوونکو) ټوپۍ ئې په سر کړې ده، نو د دې د سبب تپوس ئې ترې اوکړو، هغه جواب ورکړو: چه کله به د محمّدِ مصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارك راتلو نو ما به درود شریف نه لوستلو، د دې ګناه د سپیره والي په وجه زما نه معرفت او ایمان واخستلې شو. (سَبۡعَ سَنابِل ص۳۵ مکتبه نُوريهٔ، سکهر)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خوب لیدو په وجه چا ته کافِر نه شي وئیلې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اولیده؟ د ګناهونو سپیره والي څومره خطرناك دي چه د دې په وجه د مرګ په وخت کښې د اِیمان

[1] دا بیان په ۲۳ ربیعُ الآخر ۱۴۱۹ھ د شارجه نه عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه باب المدینه کراچۍ ته رِیلې شوې وو. د ضروري ترمیم سره لیکلې شوې حاضرِ خِدمت دي.

www.dawateislami.net

د بربادېدو خطره وي. دلته دا ضروري مسئله ياده لرئ چه د چا په باره کښې بد خوب ليدل بيشکه د تشويش خبره ده خو بيا هُم د غيرِ نبي خوب په شريعت کښې حُجَّت يعني دليل نه دې، صرف د خوب ليدو په وجه کوم يو مسلمان ته کافِر نه شي وئيلې او په کوم يو مسلمان مړې باندې په خوب کښې د ڪُفر څه نښه ليدلو يا پخپله د مړ شوي مسلمان چا ته په خوب کښې د خپل اِيمان د بربادېدو په خبر ورکولو هُم هغه ته کافِر نه شي وئيلې.

## د دُرود په ځائ ؐ ليکل ناجائزه دي

صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُاللهِ‌تَعَالٰی‌عَلَيْه فرمائي: په عُمر کښې يو ځل درود شريف لوستل فرض دي او د درود شريف په مجلِس کښې درود شريف لوستل واجب دي اګرکه پخپله نوم مبارك واخلي او که د بل نه ئې واوري. که په يو مجلس کښې سل ځله ذِکر راشي نو هر ځله درود شريف لوستل پڪار دي. که نوم مبارك ئې واخستو يا ئې واوريدو او درود شريف ئې هغه وخت اُو نه لوستو نو په بل يو وخت کښې دِ ئې د هغې په بدله کښې اووائي. که نوم مبارك اوليکي نو درود شريف دِ ضرور ليکي ځکه چه د ځيني علماء په نزد هغه وخت درود شريف ليکل واجب دي. اکثر خلق نن صبا د درود شريف (يعني د پوره صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ليکلو) په

ځاۍ صلعم، عم، ﷺ ، ؑ ، ليکي دا ناجائزه او سخت حرام دي. هُم دغسې د رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ځاۍ رضؓ د رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په ځاۍ رحؒ ليکي داسې ليکل هُم نه دي پکار. (بہارِ شریعت حِصّہ ۳، ص ۱۰۱، ۱۰۲ مَکْتَبَۃُ الْمَدِینہ کراچي) د الله جَلَّ جَلَالُہٗ نوم مبارك چه اوليکۍ په هغې "ج" مه ليکۍ، عَزَّوَجَلَّ يا جَلَّ جَلَالُہٗ پوره ليکۍ.

ہر دم مِری زباں پہ دُرُود و سلام ہو
میری فضول گوئی کی عادت نکال دو

زما په ژبه دِ هر دم دُرود و سلام وي
د فضول خبرو لري زما عادت کړې

## د رِعايت نه فائده واخلۍ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اوس چه تاسو کوم حِکايت واوريدو په دې کښې په مبارك نوم باندې د درود شريف نه لوستلو والا کس د خاتِمې په باره کښې د ليدلې شوې تشويشناك خوب بيان دې. مونږ ته د الله تعالیٰ د بې نيازۍ او د هغه د پټ تدبِير نه يَريدل پکار دي او درود شريف وئيلو کښې غفلت کول نه دي پکار. د نن نه مخکښې کيدې شي چه ډير ځل داسې شوې وي چه مونږه نوم مبارك اوريدلې يا وئيلې وي او درود شريف مو نه وي لوستلې. ولې چه دا رعايت شته دې چه که هُغه وخت کښې ئې نه وي لوستلې نو وروسته ئې هُم لوستلې شي، لِهٰذا اوس ئې اولولۍ او آئنده کوشش کوۍ چه هُم هغه وخت کښې ئې لوَلۍ.

وہ سلامت رہا قِیامت میں
پڑھ لئے جس نے دل سے چار ۴ سلام

هغه پاتې سلامت شو په قيامت كښې
چا چه اووئيل د زړه نه څو سلامه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بدې خاتِمې څلور اسباب

په شَرحُ الصُّدُور كښې دي، څينې عُلماءِ كِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى فرمائي چه: د بدې خاتِمې څلور اسباب دي. (١) په نمانځه كښې سستي كول (٢) شراب څښل (٣) د مور او پلار نافرماني كول (٤) مسلمانانو ته تكليف وركول. (شَرحُ الصُّدُور ص٢٧ دار الكتب العلمية بيروت)

كوم اسلامي وروڼړه چه مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ نمونځ نه كوي يا ئې قضا كوي او بيا ئې كوي، د سحر نمانځه ته نه پاڅي، بې د شرعي مجبورئ نه ئې بې جَمعې كور كښې اوكړي، د هغوئې د پاره د فكر مقام دې، چرې په نمانځه كښې سستي كول ئې د بدې خاتمې سبب جوړ نه شي. هُم دغسې شراب څښلو والا، د مور او پلار نافرمانه او مسلمانانو ته د خپلې ژبې يا لاس وغيره په ذريعه تكليف وركوونكې دِ په رښتيني توبه اوكړي. صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د توبې

www.dawateislami.net

اصل رُجُوع اِلى الله (يعني د الله تعالیٰ طرف ته رُجُوع كول) دي. د دې درې اركان دي، يو د خپلې ګُناه اعتراف (يعني اِقرار كول) ، دوئِم پښېمانتيا، دريم عزمِ تَرك (يعني د هغه ګناه پرېښودلو پخه اِراده كول) كه ګناه قابِل تلافي [يعني د نُقصان د بدلې ادا كولو والا] وي نو د هغې تَلافي (يعني د نقصان بدله) هُم لازِمي ده مَثَلًا تارِكِ صلوٰة (يعني د مونځ پرېښودونكي) د توبې د پاره د تيرو مونځونو قضا راګرځول هُم ضروري دي. (خَزائِنُ الْعِرفان ص ۱۲ بمبئ) او كه حُقوقُ العِباد ئې ضائع كړي وي نو د توبې سره د هغې تلافي [يعني پوره كول] هُم ضروري دي مَثلًا كه د مور او پلار، د خپلې ښځې يا د خپل دوست وغيره زړه ئې ازارولې وي نو د هغه نه دِ په داسې طريقه معافي اوغواړي چه هغه ئې معاف كړي. صرف په مُسكا او خندا كښې (SORRY) [يعني معافي غواړم] وئيل په هره معامله كښې كافي نه وي!

نفس یہ کیا ظلم ہے ہر وقت تازہ جُرم ہے
ناتُواں کے سر پہ اتنا بوجھ بھاری واہ واہ
نفسه دا څه ظُلم دې، هر وخت تازه جُرم دې
د كمزورې په سر بوج دومره وزندار واه واه

## د درې عيبونو د سپيره والې حِكايت

په "مِنهاجُ العابِدِين" كښې دي چه، حضرتِ سَيِّدُنا فُضَيل بِن عِياض رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيۡه د خپل يو شاګرد د ځنكدن په وخت كښې تشريف

راوړو او د هغه خوا ته کښيناستلو او سُورةِ یٰسٓ لوستل ئې شروع کړو. شاګرد ئې اووئيل: ”سورةِ یٰسٓ لوستل بس کړه.“ بيا هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيۡه هغه ته د کَلِمې طَيبې تلقين[2] اوکړو. هغه اووئيل: ”زه بالکل دا کَلِمه نه وايم، زه د دې نه بيزاره يم.“ بس د هُم دې الفاظو وئيلو نه پس هغه مړ شو. حضرتِ سَيِّدُنا فُضَيل رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيۡه د خپل شاګرد په بده خاتمه کيدو سخت خفه شو. څلويښت ورځې ئې په خپل کور کښې ژړل. څلويښت ورځې پس هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيۡه خوب اوليدو چه فرښتې هغه شاګرد په جهنَّم کښې راښکاږي. دوئي رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيۡه ترې تپوس اوکړو چه: په څه سبب اللّٰه تعالٰی ستا نه مَعرِفَت واخستو؟ زما په شاګردانو کښې خو ستا مقام ډير اوچت وو! هغه جواب ورکړو: د درې عيبونو په سبب (۱) **چُغلي** ځکه چه ما به خپلو ملګرو ته يو څه وئيل او تاسو رَحۡمَةُ اللّٰهِتَعَالٰی عَلَيۡه ته بل څه (۲) حَسَد ځکه چه ما به د خپلو ملګرو سره حَسَد کولو (۳) شراب څښل ځکه چه د يوې بيمارئ نه د شِفا موندلو په غَرَض به ما د طبيب په مشوره هر کال د شرابو يو ګِلاس څښلو.

(منهاجُ الۡعَابِدِين ص ١٦٥، مؤسسة السيروان، بيروت)

[2] د چا چه ځنکدن وي هغه ته داسې وئيل نه دي پکار چه کَلِمه اُووايه بلکه د تَلقِين صحيح طريقه دا ده چه د ځنکدن والا خوا ته په اوچت آواز کلمه شريفه لوستل پکار دي چه هغه ته هُم ورياده شي.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د الله تعالیٰ د يَرې نه اُولړزيږئ! او په يَره يَره د خپل معبُودِ بَرحق د راضي کولو د پاره د هغه په بارګاه کښې سرونه ښکته کړئ. آه! د **چُغلئ،** حَسَد او د شرابو د څښلو په وجه د وَلِيّ کامِل شاګرد په کُفريه کَلِماتو وئيلو وئيلو کښې مړ شو. صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي محمد امجد علي اعظمي رَحمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د مرګ په وخت کښې **مَعَاذَالله** د هغه د ژبې نه کَلِمهٔ کُفر اُووتله نو د کُفر فتوٰی به نه ورکوو ځکه چه کيدې شي چه د مرګ د سختئ په وجه ئې عقل کار پريښودې وي او په بې هوشئ کښې ئې دا خَبره کړې وي. (بهارِ شريعت حِصّه٤، ص ١٥٨ مَکْتَبَةُ الْمَدِينه باب المدينه کراچي، دُرِّ مُختار ج٣ ص٩٦ دار لمعرفة بيروت)

## د سپو په شکل کښې حشر

افسوس! نن صبا **چُغلي** دومره عامه ده چه اکثرو خلقو ته شايد چه معلومات هُم نه وي چه زه **چُغلي** کووم، **چُغلي** کول د آخرت د سختې بربادئ باعث دي. چنانچه د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک فرمان دې: "غِيبت، پيغور، **چُغلي** [کولو والا] او د بې ګناه خلقو عيبونه لټولو والا به الله تعالیٰ (د قيامت په ورځ) د سپو په شکل کښې راپاڅوي. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج٣ ص٣٢٥ دار لکتب العلمية بيروت) په يو حديثِ پاک کښې دي، **چُغلي** کوونکې به جنَّت ته نه ځي.

(صَحِيحُ الْبُخَارِی ج٤ ص١١٥ حديث ٦٠٥٦ دار الکتب العلمية بيروت)

## د چُغلۍ تعریف

د مُهلِکاتو یعني هلاك كوونكو ګناهونو نه بچ كيدل ضروري دي او د دې نه د بچ كيدو د پاره عام طور د دې پيژندل ضروري وي. دلته د چُغلۍ تعریف وړاندې کیږي، عَلّامه عَینِي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیۡه د اِمام نووي نه نقل فرمائي چه د چا خبره د ضرر (یعني نقصان) رسولو په اراده بل ته رسوَل چُغلي ده. (عُمدةُالقاری تحت الحدیث ۲۱٦ ج۲ ص۵۹٤ دارالفکر بیروت)

## آیا مونږه د چُغلۍ نه ځان ساتُو؟

افسوس! د اکثرو خلقو په خبرو كښې نن صبا د غِيبت او چُغلۍ سلسله ډيره زياته وي. كه د دوستانو مجلس وي او كه د مذهبي اجتماع نه پس ټولګې وي، كه د واده دعوت وي او كه د تعزِيَّت [یعني لاس نيوې] ټولګې وي، كه د چا سره ملاقات وي او كه په فون خبرې وي، كه د يو څو مِنټو د خبرو هُم د چا سره څه صورت جوړ شي او دِيني معلومات لرونكې يو احساس لرونكې كس كه د هغه خبرو ''تشخِيص'' [یعني معائنه] اوكړي نو شايد په اكثرو مجلسونو كښې به نور د ګناهونو نه ډكو الفاظو سره سره په درځنو ''چُغلۍ'' هُم ثابتې كړي. هائے! هائے! زمونږه به څه انجام كيږي!!! يو ځل بيا په دې حديثِ پاك غور اوكړئ: '' چُغلي كوونكې به جنَّت ته نه ځي.'' كاش چه مونږ ته په حقيقي معنو كښې د ژبې قُفلِ مدينه

www.dawateislami.net

نصيب شي، کاش چه د ضرورت نه سِوا مو يو لفظ هُم د خُلې نه نه اُوځي، د زياتو خبرو کوونکو او د دُنياوي دوستانو په ټولګو کښې د کيښناستو والا کس د غِيبت او خاص طور د **چُغلۍ** نه بچ کيدل بيحده مُشکِل دي. آه! آه! آه! په حديثِ پاك کښې دي: ”د کوم کس خبرې چه زياتې وي د هغه غلطۍ هُم زياتې وي او د چا غلطۍ چه زياتې وي د هغه ګناهونه زيات وي او د چا چه ګناهونه زيات وي هغه د جهنَّم زيات لائق دې.“

(حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج۳ ص۸۷، ۸۸ رقم ۳۲۷۸ دار الکتب العلمية بيروت)

نَبِيِّ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ”د هغه کس د پاره خوشخبري ده څوك چه زياتې خبرې حصارې کړي [يعني اونکړي] او د مال نه زيات خرچ کړي.“

(اَلْمُعْجَمُ الْكَبِيْر للطبرانی ج۵ ص۷۱، ۷۲ دار حياء التراث العربی بيروت)

يو صحابي رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي: څينې کس بعضې وخت ما ته څه داسې خبره اوکړي چه د هغې جواب ورکول ما ته دومره خوښ وي څومره چه به تږي انسان ته يخې اُوبه هُم خوښې نه وي. خو زه د دې خبرې نه د يَريدو په وجه د جواب ورکولو نه منع پاتې شم چه چرې دا صرف فُضُول کلام نه وي.

(اِتحَافُ السَّادَةِ الْمُتَّقِيْن ج۹ ص۱۵۹ دارلکتب العِلمية بيروت)

www.dawateislami.net

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! هغه صحابي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ خو د فضولو خبرو د يَرې نه د جائز جواب ورکولو نه هُم پرهيز کولو او مونږه چه کله د چا د خبرې وضاحتې کاروائي شروع کړو نو نه غِيبت پريږدو او نه چُغلي، نه د چا عيب ښکاره کولو نه ځان ساتو، نه د الزام لګولو نه ځان ساتو. هائے! هائے! زمونږه به څه انجام کيږي! يا الله جَلَّ جَلَالُہٗ مونږ ته عقلِ سَلِيم راکړې او مونږه د ګناهونو ډکې خبرې نه پريښودونکو ته په حقيقي معنو کښې د ژبې قُفلِ مدينه رانصيب کړې. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! په بيان شوي حِکايت کښې د حَسَد د سپيره والي هُم تذکِره ده. افسوس! د حَسَد مرض هُم ډير زيات خور شوې دې. په حديثِ پاك کښې راځي: "حَسَد نيکئ داسې خوري څنګه چه اور لرګې خوري." (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه ج٤ ص٤٧٣ حديث٤٢١٠ دار المعرفة بيروت)

## د حَسَد تعريف

حَسَد کوونکې ته حاسِد او چا سره چه حَسَد اوکړې شي هغه ته مَحسُود وائي. "لِسانُ الْعَرَب" جِلد ٣ صفحه ١٦٦ کښې د حَسَد تعريف داسې بيان کړې شوې دې:

اَلْحَسَدُ اَنْ تَتَمَنّٰی زَوَالَ نِعْمَةِ الْمَحْسُوْدِ اِلَیْكَ

يعني حَسَد دا دې چه ته خواهش اوکړې چه د مَحسُود نِعمت د هغه نه زائِل [يعني لاړ] شي او تا ته درکړې شي.

## د حَسَد د تعریف په آسانو الفاظو کښې خُلاصه

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د بیان کړې تعریف نه دا معلومه شوه چه د چا سره څه نعمت اُووِیني او خواهش اوکړې چه کاش! د ده نه دا نِعمت واخستې شي او ما ته راکړې شي. مَثلاً د چا د شُهرت یا عِزَّت نه د نفرت جذبه لرلو په وجه دا خواهش لرل چه دا په څه طریقه ذلیله شي او د ده په ځائ ما ته د عِزَّت مُقام راکړې شي، او د ځیني مالدار نه د سوزیدو په وجه دا خواهش لرل چه د ده په څه طریقه نقصان اوشي او دا غریب شي او زه د ده په ځائ دولتمند شم. داسې خواهش لرل حَسَد دې. او مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ دا وَبا ډیره خوره شوي ده، نن صبا د بل د کاروبار د خرابولو ډیر کوششونه کیږي، ناحقه د هغه د مال خرابۍ بیانیږي او په هغه دُکاندار باندې د قِسم قِسم اِلزامات لګولې کیږي او دغسې د حَسَد په وجه د دروغو، غِیبت، چُغلۍ، بې عِزَّتۍ او معلومه نه ده چه نور څه څه ګناهونه کیږي. آه! اوس په اکثرو مسلمانانو کښې وروروليي ورځ په ورځ ختمیږي. پخواني مسلمانان به خومره ښه انسانان وو، په دې ځان د دې حِکایت نه پوهه کړئ:

## د سَیِّدی قُطبِ مدینه حِکایت

خلیفۀ اعلٰی حضرت، شیخُ الفضِیلت، سَیِّدُنا و مَولانا و مُرشِدُنا ضیاءُ الدِّین احمد قادِري رَضَوِي مَدَني المَعروف قُطبِ مدینه رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د

تُرکو د ”دَورِ خِدمت“ نه په مدينهٔ مُنَوَّره کښې اوسيدلو. تقريباً ۷۷ کاله هلته اوسيدلو او اوس په جَنَّتُ الْبَقِيع کښې د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه مزار مبارك دې. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته چا عرض اوکړو: يا سَيِّدِی! پخواني (غالِباً د تُرکو د دَوَر) اَهلِ مدينه [يعني د مديني اوسيدونکي] څنګه وو؟ اوئې فرمائيل: يو مالدار حاجي صاحب په غريبانو باندې د کپړې تقسيمولو په غَرَض د خريدارئ د پاره د يو بَزَّاز (يعني رخت خرڅوونکي) دُکان ته ورغلو او په کافي مِقدار کښې ئې ترې کپړه اوغوښته. دُکاندار ورته اووئيل چه: زه ستاسو آرډر پوره کولې خو شم مګر زما درخواست دې چه تاسو ئې د مخامخ دُکان نه واخلئ ځکه چه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ نن زما ښه ډيره دُکانداري شوې ده، زما د هغه عاجزه ګاونډي دُکاندار نن دُکانداري لږه کمزوري شوې ده. حضرتِ سَيِّدی قُطبِ مدينه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه اُوفرمائيل چه: پخواني اَهلِ مدينه داسې وو. **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُهٗ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

دل سے دنیا کی اُلفت نکالو! اس تباہی سے مولیٰ بچالو
مجھ کو دیوانہ اپنا بنالو، یا نبی تاجدارِ مدینہ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

لرې کړه ما نه د دُنيا اُلفَت، تباهئ نه مې اُوساتې اِلٰهي
ما ديوانه جوړ کړې ستا ، يا نبی تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دوه اَمرَد خوښووونکو مُؤَذِّنانو بربادي

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن اَحمد مُؤَذِّن رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: زه د خانه کعبې په طواف کښې مشغُول ووم چه يو کس مې اوليدو، هغه د خانه کعبې غِلاف نه غيرِه تاو کړي وه او صرف د يوې دُعا تِڪرار ئي کولو: ”يا الله جَلَّ جَلَالُہٗ ما د دُنيا نه مسلمان رخصت کړې.“ ما د هغه نه تپوس اوکړو: د دې نه علاوه نورې دُعاګانې ولې نه کوې؟ هغه اووئيل چه: زما دوه ورونړه وو، مشر ورور به مې د خلويښتو کالو پورې په جُمات کښې بې تنخواه اذان کولو. چه کله د هغه د مرګ وخت راغې نو هغه قُرآنِ پاك اوغوښتو، مونږه هغه ته ورکړو چه د دې نه بَرَکتونه واخلي، خو قُرآنِ شريف ئې چه په لاس کښې واخستو نو اوئې وئيل چه: تاسو ټول ګواه شئ چه زه د قُرآن د ټولو اعتقاداتو [يعني عقيدو] او احکاماتو نه بيزاره يم او نصراني (يعني عِيسائي) مذهب اختياروم.“ بيا هغه مړ شو. د هغه نه پس مې بل ورور د ديرشو کالو پورې په جُمات کښې فِیۡ سَبِیۡلِ الله اذان کولو. خو هغه هُم په آخري وخت کښې د نصراني کيدو اقرار اوکړو او مړ شو، لِهٰذا زه د خپلې خاتمې په باره کښې بيحده فکرمند يم او هر وخت د خاتِمهٔ بِالخَير دُعا کووم. حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن اَحمد مُؤَذِّن رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د هغه نه تپوس اوکړو چه ستا دوارو ورنړو به آخر کومه ګُناه کوله؟ هغه اووئيل:

”هغوئي به د غيرو ښځو شوق لرلو او اَمردانو (يعني بې ږِيرې هلكانو) ته به ئې (په شهوت سره) كتل.“ (اَلرَّوضُ الفَائِق ص۱۷، دار الكتب بيروت)

## د خپلوانو د خپلوانو نه پرده

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! غَضَب اوشو! آيا اوس به هُم د غيرو ښځو سره د بې پردګئ او آزادئ نه نه قلاريږئ؟ آيا اوس به هُم د خپلې ورندار، چاچي، مامي (ځكه چه دا ټولې هُم شرعاً غيرې ښځې دي آيا د دوئي) نه به د خپلو ستركو حِفاظت نه كوئ؟ هُم دغسې د يو تره او بل تره د لوڼړو او ځامنو، د ماما د لوڼړو [او د خورئينو او د ماما د ځامنو او خورزو]، د ترور د لوڼړو [او ځامنو او د بلې ترور د لوڼړو او ځامنو په خپل مينځ كښې پرده ده] او د ښځې د خور [يعني ښِينې] د خپلې خور د خاوند نه پرده ده. د نامحرمه پِير او مُريدې هُم په خپل مينځ كښې پرده ده. مُرِيده د خپل نامَحرمه پِير ښېپې او لاس نه شي ښكلولې.

## اَمرَد [يعني بې ږِيرې هلك] ته په شهوت كتل حرام دي

خبردار! اَمرد خو اور دې اور! د اَمرَد سره نزديكت، د هغه دوستي، د هغه سره توقې ټقالې، د هغه سره كُشتي او مستي كول، او غيرې وركول بنده جهَنَّم ته غورزولې شي. د اَمرَد نه لرې اوسيدو كښې خير دې اګرچه د هغه غريب څه قصور نشته، د اَمرَد كيدو په وجه د هغه زړه هُم مه ازاروئ. خو د هغه نه خپل ځان ساتل بيحده

ضروري دي. هيڅ کله هُم اَمرَد په سکوټر ځان سره شا ته مه کښينوئ، په هغه پسې شا ته هُم مه کښينئ ځکه چه که اور مخکښ وي او که وروسته، د هغې تودوالې به په هر صورت کښ در رسيږي. که شهوت نه وي نو بيا هُم اَمرَد له غاړه ورکول مَحَلِ فِتنه (يعني د فساد مقام) دې. او د شهوت کيدو په صورت کښ غاړه ورکول بلکه لاس ورکول [يعني لاس مِلاوول] بلکه فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي: اَمرَد ته په شهوت سره کتل هُم حرام دي. (تَفسِيراتِ اَحْمَدِيه ص۵۵۹ پشاور) د هغه د بدن هرې حِصّې تر دې چه د هغه جامو ته کتلو نه هُم خپل نظر بچ ساتئ. د هغه په تصوّر کولو که شهوت کيږي نو هُم ځان ترې ساتئ، د هغه لِيك يا د هغه بل څه څيز [ته کتلو] نه که شهوت درځي نو د هغه سره نِسبت لرونکي هر څيز نه د خپل نظر حفاظت کوئ، تر دې چه د هغه کور ته هُم مه ګورئ. که د هغه پلار يا مشر ورور ته په کتلو د هغه تصوّر راتلو سره شهوت درځي نو هغوئي ته هُم مه ګورئ.

## د اَمرَد سره اَويا شيطانان

د اَمرَد په ذريعه د شيطان مکار د وار په باره کښ اعلٰحضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه خبرداري ورکوي، فرمائي: منقول دي چه: د زنانه سره دوه شيطانان وي او د اَمرَد سره اَويا. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۲۳، ص۷۲۱)

www.dawateislami.net

بهرحال اَجنبِيه [يعني غيره] ښځه (يعني د چا سره چه واده جائز وي) د هغې نه او د اَمرَد نه د خپلو سترګو او بدن حفاظت سخت ضروري دې ځکني اوس تاسو د هغه دوه ورونړو د مرګ تشويش ناك معاملات اولوستل، کوم چه په ظاهره نيك وو. مهرباني اوکړئ د **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي **مختصره** رِساله اَمرَد پسندي کی تباه کارياں [او رِساله "قومِ لُوط کی تباه کارياں"] اولولئ.

نفسِ بے لگام تو گناہوں پہ اُکساتا ہے
توبہ توبہ کرنے کی بھی عادت ہونی چاہئے
بې واګې نفس خو ورکوي دعوت د ګناه
عادت پکار دې د توبه توبه کولو هُم

## حج نه ادا کول د بدي خاتِمي سبب دي

زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دې: چا ته چه د حج کولو نه نه ظاهري حاجت رُکاوټ شو، نه ظالِم بادشاه، نه څه داسې مرض چه کوم ئې حصار کړي بيا بغير د حج نه مړ شو نو چه غواړي يهودي جوړ شوې دِ مړ شي يا نصراني جوړ شوې." (سُنَنُ الدَّارِمی ج۲ ص۴۵ حديث۱۷۸۵ باب المدينه کراچی) معلومه شوه چه د حج فرض کيدو باوجود چا کوتاهي اوکړه او د حج ادا کولو نه بغير مړ شو نو د هغه د بدي خاتمي کيدو ډيره سخته خطره ده.

## د اذان په دوران کښې د خبري کولو والا د بدي خاتمې يَره

صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د فتاوىٰ رَضَوِيَّه په حواله نقل کوي: څوك چه د اذان په وخت کښې په خبرو کښې مشغول وي د هغه مَعَاذَالله (عَزَّوَجَلَّ) د بدي خاتِمې کيدو يَره ده. (بهارِ شريعت حِصّه ۳، ص ٤١ مَكْتَبَةُ الْمَدِينه كراچي)

## د اذان جواب ورکوونکې جَنَّتي شو

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! چه کله اذان شروع شي نو خبرې او نور کارونه پريښودل پکار دي او د هغې جواب ورکول پکار دي. خو که د جُمات طرف ته روان وي يا اَودَس کوي نو په روانه روانه او اودس کولو کولو کښې جواب ورکولې شي. چه کله پرله پسې د اذانونو آوازونه راځي نو د اولني اذان جواب ورکول کافي دي او که د ټولو اذانونو جواب ورکړې نو بهتره ده. د اذان د جواب ورکولو هُم څه ښکلې سپرلي دي چنانچه په "تاريخِ دِمشق جلد٤٠ صفحه٤١٢ کښې دي: حضرتِ سَيِّدُنا ابُو هُريره رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي چه يو صاحب چه د هغوئي په ظاهره څه ډير غټ نيك عمل نه وو، هغه وفات شو نو رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په موجودګئ کښې اوفرمائيل: آيا تاسو ته معلومه ده چه الله تعالیٰ هغه جَنَّت ته داخل کړې دې. په دې باندې خلق حيران شو ځکه چه په ښکاره د هغوئي

څه غټ عمل نه وو. چنانچه يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د هغوئي کور ته لاړو او د هغوئي د کونډې [ښځې] نه ئې تپوس اوکړو چه د هغوئي څه خاص عمل مونږ ته اوښائې، نو هغې جواب ورکړو: بل خو کوم خاص عمل ما ته معلوم نه دې، صرف دومره راته معلومه ده چه که ورځ به وه او که شپه، چه کله به هُم هغوئي اذان اوريدلو نو جواب به ئې ضرور ورکولو. (تارِيخِ دِمشق لِابنِ عَساکِر ج٤٠ ص٤١٢، ٤١٣ مُلَخَّصاً دار الفکر بيروت)

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُہٗ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي. د اَذان او د اذان د جواب د تفصِيلي اَحکاماتو د معلوماتو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي رِساله فيضانِ اذان ضرور اولولئ.

گُنَہ گدا کا حساب کیاوہ اگرچہ لاکھ سے ہیں سِوا
مگراے عَفُو ترے عَفُوکاتوحِساب ہےنہ شُمار ہے

د فقير د ګناهونو څه حساب، اګر که وي په لکونو
خو اے عفُو ستا د بخښني نه شمير شته او نه حساب

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اور رابانديې راځي

حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د يو مريض سر ته تشريف راوړو چه هغه مرګ ته نزدې وو. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ډير ځله هغه ته د کَلِمې شريفې وئيلو تلقين اوکړو، خو هغه د "لس يوولس لس

یوولس“ آوازونه لګول! چه کله ئې د هغه نه د دې د وجهې تپوس اوکړو نو هغه اووئیل: زما مخې ته د اور غر دې چه کله زه د کَلِمه شریف وئیلو کوشش کووم نو دا اور زما د سوزولو د پاره په ما راځي. بیا هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی‌عَلَیْه د خلقو نه تپوس اوکړو چه: په دُنیا کښې به ده څه کار کولو؟ چا اووئیل چه دا سُود خور وو او تول به ئې کم کولو.

(تذکرۃُالْاَوْلِیاء ص۵۲، ۱۵۳انتشاراتِ ګنجینه تهران)

## په ناپ تول کښې د کمې کولو عذاب

آه! د سود خورو او په ناپ تول کښې د کمې کوونکو بربادي! د یو څو روپو د پاره خپل ځان د جهنَّم لمبو ته د حواله کولو جُرأت کولو والؤ! واورئ! واورئ! په رُوحُ الْبَیان کښې نقل شوي دي: څوك چه په ناپ تول کښې خیانت کوي. د قیامت په ورځ به هغه د جهنَّم په جور والي [یعني جوړ ځائ] کښې واچولې شي. او د دوو غرونو په مینځ کښې به کښینولې شي او حُکم به ورکړې شي، ”دا غرونه ناپ کړه او اوتله.“ چه کله تلل شروع کړي نو اور به ئې اوسوزوي.

(رُوحُ البَیان ج۱۰ ص۳٦٤ کوئټه)

ګراں کے فضل پہ تم اعتماد کر لیتے
خدا گواہ کہ حاصل مراد کر لیتے

که دِ کړې وو په فضل د هغه اعتِماد
خُدائے ګواه دې چه موندلې به دِ وو مُراد

www.dawateislami.net

## د يو شيخ بده خاتِمه

حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ او حضرتِ سَيِّدُنا شَيبان راعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ دواړه يو مقام كښې يو ځائ شو. سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ټوله شپه ژړل. سَيِّدُنا شَيبان راعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ترې د ژړا د سبب تپوس اوكړو نو اوئې فرمائيل: ما د بدې خاتمې يَره ژړوي. آه! ما د يو شيخ نه خلويښت كاله عِلم حاصل كړو. هغه د شپېته كالو پورې په خانهٔ كعبه كښې عبادت اوكړو خو د هغه خاتِمه په كُفر اوشوه. سَيِّدُنا شَيبان راعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اووئيل: اے سُفيان! هغه د هغه د ګناهونو بدله وه تاسو د الله تعالىٰ نافرماني هيڅ كله مه كوئ.

(سبع سنابِل ص٣٤ مكتبه نُوريه رَضَوِيّه، سكهر)

چھڑا زنگ دل کا چھڑا دھیرے دھیرے حجاباتِ ظلمت ہٹا دھیرے دھیرے
کر آہستہ آہستہ ذکرِ الٰہی ہو پھر مدحتِ مصطفٰے دھیرے دھیرے

## د فرښتو سابِقه اُستاذ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! الله تعالىٰ بې نيازه دې، د هغه د خُفيه تدبير نه هيڅ څوك نه دې خبر، هيڅ چا ته هُم په خپل عِلم او عبادت باندې فخر كول نه دي پكار. شيطان زرګاؤ كلونه عبادت اوكړو، د خپل رياضت او عِلمِيَّت په وجه مُعَلِّمُ الْمَلَكُوت يعني د فرښتو اُستاذ جوړ شوې وو خو هغه بدبخته تَكَبُّر غرق كړو او هغه

کافِر شو. اوس د بندګانو د دوکه کولو د پاره هغه پوره زور لګوي، ټول عُمر وسوسي خو ورکوي ورکوي خو د مړ کيدو په وخت کښ خپل پوره زور ختم کړي د پاره د دې چه په څه طريقه د بنده بده خاتِمه اوشي. چنانچه:

## شيطان د مور او پلار په شکل کښ

منقُول دي: چه کله د انسان ځنکدن وي نو دوه شيطانان راشي د هغه ښي او ګڅ طرف ته کښيني. ګڅ طرف والا شيطان د هغه د پلار شکل جوړ کړي او وائي: ځويه! اوګوره زه ستا مهربانه او شفيق پلار يم، زه تا ته نصيحت کووم چه ته د نصارٰی مذهب اختيار کړه او په دې مړ شه ځکه چه دا د ټولو نه بهترين مذهب دې. د ګڅ طرف والا شيطان د مړ کيدونکي د مور په شکل کښ راشي او وائي: زما خوږه ځويه! ته ما په خپله خيټه کښ ساتلي وې، تا ته مې خپل پئ درکړي دي او په خپله غيږه کښ مې پاللې ئې، خوږه ځويه! زه درته نصيحت کووم چه يهودي مذهب اختيار کړه او په دې مړ شه ځکه چه دا د ټولو نه اعلٰی مذهب دې. (التَّذْكِرَةُ الْقُرطُبِی ص۳۸ دار الکتب العلمية بيروت)

## د مرګ د تکليفونو يو ځاځکې

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! واقعي بيحده تشويش ناکه معامله ده، بنده چه کله په تبه يا د سر درد کښ اخته شي نو هغه ته په څه

خبره کښې فيصله کول مشکل شي، بيا د ځنکدن تکليفونه خو ډېر زيات وي. په ”شَرۡحُ الصُّدُور“ کښې دي، که د مرګ د تکليفونو يو څاڅکي د آسمان او زمکي په ټولو اوسيدونکو باندې اوکړې شي نو ټول به مړه شي. (شَرۡحُ الصُّدُور ص۳۲ دار الكتب العلمية بيروت) نو په داسې نازک حالت کښې به چه د مور او پلار په شکلونو کښې شيطانان دوکه کول کوي نو هغه وخت به انسان ته په اسلام باندې ثابِت قدم اوسيدل څومره مشکل وي. په ”کِيميائے سعادت“ کښې دي چه، حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو درداء رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ به فرمائيل: قسم په خُدائے جَلَّ جَلَالُهٗ: هيڅ څوك د دې خبرې نه مُطمئِنه کيدې نه شي چه د مرګ کيدو په وخت کښې به د هغه اسلام باقي پاتې شي او که نه!

(کيمیائے سعادت ج۲ ص۸۲۵ انتشاراتِ گنجینه تهران)

یارسول اللہ! کہا تھا مرتے دم
قَبر میں پہنچا تو دیکھا آپ ہیں
يَارَسُولَ الله مې وئيلي وو په ځنکدن کښې
قبر ته چه راغلم نو وِينم چه هغه تاسو ئې

## شيطان د دوستانو په شکل کښې

حُجَّةُ الۡاِسلام حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحۡمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: د ځنکدن په وخت کښې شيطان خپل ملګري د مړ کيدو والا کس د دوستانو او خپلوانو په شکلونو کښې ځان سره راولي. هغه ټول وائي،

وروره! مونږه ستا نه مخکښ د مرګ خوند څکلې دې، د مرګ نه پس چه څه کیږي د هغې نه مونږ ډیر ښه خبر یو. اوس ستا وار دې، مونږه تا ته د همدردۍ مشوره درکوو چه ته یهُودي مذهب اختیار کړه ځکه چه هُم دا دِین د الله تعالیٰ په بارګاه کښ مقبول دې. که مړ کیدو والا د هغوئي مشوره نه مني نو شیطانان د نورو دوستانو په شکل کښ راشي او وائي: ته د نصاریٰ [یعني عیسائیانو] مذهب اختیار کړه، ځکه چه هُم دې مذهب (د حضرتِ) مُوسیٰ (عَلَیْہِ السَّلَام) دِین منسُوخ کړې وو. هُم دغسې د خپلوانو او عزیزانو په شکلونو کښ [د شیطانانو] ډلې راځي د مُختلفو باطلو فِرقو د قبلولو مشورې ورکوي. نو د چا په قِسمت کښ چه د حق نه اِنحِراف (یعني مخ اَړول) لیکلې شوې وي هغه دغه وخت کښ ټوکر اوخوري او باطِل مذهب اختیار کړي. (الدرة الفاخرة فِيْ کَشْفِ عُلُومِ الاخرة ص۵۱۱ معه مجموعة رسائل الامام الغزالی دار الفکر بیروت)

کسی اور سے ہمیں کیا غَرَض، کسی اور سے ہمیں کیا طلب
ہمیں اپنے آقا سے کام ہے، نہ اِدھر گئے نہ اُدھر گئے

نه لرو د بل چا سره غرض، نه د بل چا نه څه طلب لرو
مونږ روان یو خپل آقا پسې، نه یو خوا ځو، نه بل خوا ځو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## زمونږه به څه انجام کيږي

الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی دِ زمونږه په حال رحم اوفرمائي، معلومه نه ده چه د ځنکدن په وخت کښې به زمونږه څه انجام کيږي! آه! مونږه ډير ګناهونه کړي دي، نيکئ راسره بالکل نشته، مونږه دُعا کوو چه يا الله جَلَّ جَلَالُهٗ [داسې کرم اوکړه] چه د ځنکدن په وخت کښې شيطانان زمونږ خوا ته رانشي بلکه رَحمةٌ لِّلعٰلَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړي.

نزع کے وقت مجھے جلوۂ محبوب دکھا

تیرا کیا جائے گا میں شاد مروں گا یارب

په ځنکدن کښې رانصيب کړې د محبوب نَظاره

زه به ښاد مړ شم، ستا پرې څه کيږي زما خوږه ربه

## ژبه په قابو کښې ساتئ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** هر مسلمان ته د الله تعالیٰ د بې نيازئ [يعني بې پرواهئ] او د هغه د پټ تدبِير نه په يَره او په لړزان اوسيدل پکار دي، ځکه چه معلومه نه ده چه د کومې يوې ګُناه (يعني نافرمانئ) په وجه الله تعالیٰ غضب اُوفرمائي او د اِيمان د بربادېدو خطره پيدا شي. بس هر وخت د خپل رب په بارګاه کښې عاجزي کوئ، ژبه په قابو کښې ساتئ ځکه چه د ډيرو خبرو کولو په وجه هُم کله کله د انسان د خُلې نه کفريه خبرې اُوځي او هغه خبر هُم نه

وي، هر وخت د ایمان د حفاظت فکر کول پکار دي، د اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ارشاد دي چه: عُلماءِ کرام فرمائي، څوك چه په (ژوند کښې) د ایمان د بربادیدو يَره نه لري، د ځنکدن په وخت کښې د هغه د ایمان د بربادیدو سخته خطره ده. (الملفوظ حِصّه ٤ ص٣٩٠ حامِد اینڈ کمپنی مرکز الاولیاء لاهور)

الٰہی! ان کی محبت کا گھاؤ باقی رہے دَرونِ دل یہ سُلگتا الاؤ باقی رہے
گنہ کا بارِ قیامت کا بحرِ پُر آشوب الٰہی! ان کی شفاعت کی ناؤ باقی رہے

خُدایا د هغه د محبَّت زخم مي باقي لري زړه کښې دننه مي بل اور هُم باقي لري
د ګناه بوج، د قیامت سمندر د اوښکو کشتۍ د هغه د شفاعت مي هُم باقي لري

## د بنې خاتمې د پاره مَدَني ګلونه

خوږو خوږو اسلامي وروڼرو! تشویش.......... تشویش.......... ډيره زیاته د تشویش [یعني د پریشانۍ] خبره ده، مونږه خبر نه یو چه زمونږه په باره کښې د الله تعالیٰ پټ تدبِير څه دي، معلومه نه ده چه زمونږه خاتِمه به څنګه کيږي! حُجَّةُ الِاسلام اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: که د بدې خاتمې نه امن غواړې نو خپل ټول ژوند د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُه په فرمانبردارۍ کښې تیر کړه او د هرې هرې ګناه نه ځان ساته، ضروري ده چه په تا باندې د عارِفِينو په شان يَره غالِبه وي تر دې چه د دې په سبب ستا ژړا فریاد اُوګد شي او ته همیشه

غمژن اوسيږي. لږ مخکښې نور فرمائي: تا ته پکار دي چه د ښې خاتِمي په تيارئ کښې مشغول اوسې. هميشه د الله تعالىٰ په ذِکر کښې مشغول اوسه، زړه نه د دُنيا محبَّت اوباسه، د گُناهونو نه د خپلو ټولو اندامونو بلکه د زړه هُم حِفاظت کوه، څومره چه کيدې شي بدو خلقو ته د کتلو نه هُم ځان ساته ځکه چه دا هُم په زړه اثر اچوي او ستا فِکر هغه طرف ته مائِله کيدې شي. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج٤ ص٢١٩.٢٢١ مُلَخَّصاً دار صادر بيروت)

مسلماں ہے عطارؔ تیری عطا سے
ہو ایمان پر خاتِمہ یا الٰہی

مسلمان دې عطّار ستا په عطا
کړې مې خاتِمه په اِيمان يا اَلٰهِى

## په اِيمان باندې د خاتِمې څلور وظيفې

يو کس د اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خِدمت کښې حاضر شو او په اِيمان باندې د خاتمهٔ بِالخير د پاره ئې د دُعا درخواست اوکړو نو هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د هغه د پاره دُعا اوکړه او ارشاد ئې اوفرمائيلو: ﴿۱﴾ (هره ورځ) څلور ځله سحر يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ لَآاِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ [3] اوَّل آخر درودشريف او ﴿۲﴾ د اوده کيدو په وخت کښې د خپلو ټولو وظيفو نه پس سُوْرَةُ الْکٰفِرُوْن هره ورځ لوَلئ او د هغې نه پس څه خبره وغيره مه

[3] اے هميشه ژوندې اوسيدو والا! اے هميشه قائم اوسيدو والا! بل يو معبُود نشته سِوا ستا نه.

کوئ، خو که ضرورت وي نو د خبرې کولو نه پس بیا د سُورَةِ کَافِرُوْن تِلاوت کوئ چه خاتِمه په هُم دې کیږي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ خاتِمه به مو په اِیمان کیږي. او ﴿۳﴾ درې ځله سحر او درې ځله ماښام د دې دُعا وظیفه کوئ: اَللّٰھُمَّ اِنَّا نَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ نُّشْرِكَ بِكَ شَیْـًٔا نَّعْلَمُهٗ وَنَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا نَعْلَمُهٗ [4] (الملفوظ حِصّه ٤ ص ٢٣٤ حامِد اینڈ کمپنی مرکز الاولیاء لاهور)

﴿٤﴾ بِسْمِ اللهِ عَلٰی دِیْنِیْ بِسْمِ اللهِ عَلٰی نَفْسِیْ وَ وُلْدِیْ وَاَهْلِیْ وَمَالِیْ [5] سحر او ماښام درې درې ځله لولئ، دِین، اِیمان، ځان، مال او اولاد به مو ټول په حفاظت اوسي. (شَجَرهٔ قادِرِیّه رَضَوِیّه ص۱۲ مَکْتَبَةُ الْمَدِینه کراچی) (د نِیمې شپې تیریدو نه واخله د نمر خاته پورې سحر دې او د غرمې نه پس یعنې د ماسپښین د روا کیدو نه واخله د نمر پریوتو پورې ماښام دې)

## د اور صندوق

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د کوم بدنصیبه چه په کُفر باندې خاتِمه اوشي هغه له به قبر دومره زور ورکوي چه د یو طرف پوښتۍ به ئې بل طرف ته او د بل طرف به ئې بل طرف ته اُوځي. د کافِر د پاره به هُم دغسې نور هُم دردناك عذابونه وي. د قیامت پنځوس زره

---

[4] اے الله جَلَّ جَلَالُهٗ مونږه ستا پناه غواړو، د دې نه چه اِرادتاً مونږه ستا سره څه څیز شریك کړو او مونږه د هغې نه اِستِغفار کوو د کوم چه علم نه لرو.

[5] د الله تعالیٰ د نامې په بَرَکت دِ زما د دِین، ځان، اولاد او اهل او مال حِفاظت اوشي.

کاله ډېره زياته سخته ورځ به ئې هُم په ډېرو زياتو سختو کښې تيرېږي، بيا به هغه پړمخ راښکلې شي او جهَّنم ته به غوزار کړې شي. کوم ګنهګاران مسلمانان چه به دوزخ ته تلي وي چه هغوئې کله را اوويستلې شي او په جهنَّم کښې صرف هغه خلق پاتې شي د چا چه په ڪُفر خاتِمه شوي وي نو بيا به په آخره کښې د کُفَّارو د پاره داسې اوشي چه د هغه د ونې [يعني د بدن د اُوګدوالي] هُمره د اور په صندوقانو کښې به هغوئې بند کړې شي، بيا به په هغې کښې اور تيز کړې شي او د اور قُفل (يعني جندره [تاله]) به ورته اولګوله شي، بيا به د اور هغه صندوق د اور په بل صندوق کښې کيښودې شي او د دواړو د مينځه به اور بل کړې شي او هغې ته به هُم د اور جندره اولګوله شي، بيا به هُم هغسې هغه په يو بل صندوق کښې کيښودې شي او د اور جندره به ورته اولګوله شي او اور کښې به واچولې شي. مرګ به د يو ګډ په شکل کښې د جنَّت او دوزخ مينځ ته راوستې شي او ذَبح [يعني حلال] به کړې شي. د هغې نه پس به هيڅ چا ته مرګ نه راځي. هر جنَّتي به د هميشه هميشه د پاره په جَنَّت کښې او هر دوزخي به د هميشه هميشه د پاره په دوزخ کښې اوسي. د جنَّتيانو د پاره به ډيرې زياتې خوشحالئ وي او دوزخيان به ډير زيات ارمانونه کوي. (بهارِشريعت حِصَّه اوّل، ص ۷۷، ۹۱، ۹۲ مُلَخَّصاً مکتبةُ المدينه باب المدينه کراچي)

www.dawateislami.net

اے د مُصطفیٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ربّه جَلَّ جَلَالُهٗ مونږ ستا نه د اِيمان او د عافِيَّت [يعني د خير] سره په مدينه کښې د شهادت، په جنَّتُ البَقِيع کښې د خخيدلو او په جَنَّتُ الفِردوس کښې د مَدَني محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګاونډ سوال کوو.

پایا ہے وہ الطاف وکرم آپ کے دَرپر　　مرنے کی دُعا کرتے ہیں ہم آپ کے دَر پر
سب عرض وبیاں ختم ہے خاموش کھڑا ہے　　آشفتہ ہے بدر آنکھ ہے نَم آپ کے دَر پر

مونډلي مې دي لُطف و کرم ستا په در
دُعا کووم د مرګ زه هُم ستا په در
ټول عرض و بيان ختم دي خاموشه دې ولاړ
بد حاله دې بدر سترګې نَم ستا په در

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د الله رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُهٗ د رَحمت نه کله هُم مايوسه نه شئ. تاسو که د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې سفر جاري ساتئ نو اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالىٰ د اِيمان د حفاظت ذهن به مو جوړيږي او په زړه کښې به مو احساس پيدا کيږي، زړه به مو نرم شي، د دُعا د پاره به مو لاس پورته شي، بيا به اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالىٰ په بارګاهِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې دا عرض کوئ.

تُو نے اسلام دیا تُو نے جماعت میں لیا
تُو کریم اب کوئی پِھرتا ہے عطِیّہ تیرا

تا اسلام راکړو تا واخستم په ډله کښې
ته کرِيم ئې بيرته نه ځي ستا تُحفه

## د سرکارِ مدینه ﷺ ژړا فریاد

اوس په خپل درزیدلي زړه لاس کیږدئ او واورئ چه! د الله جَلَّ جَلَالُهٗ محبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږه د ګنهګارو د اِیمان د سلامتئ څومره فِکر لري، چنانچه په رُوحُ البیان جِلد ۱۰ صفحه ۳۱۵ کښ دي: یو ځل د مدیني د تاجدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښ شیطان مَکّار په بدل شکل کښ حاضر شو او په لاس کښ ئي د اوبو بوتل نیولي وو او عرض ئي اوکړو چه: زه په خلقو د ځنکدن په وخت کښ دا بوتل د اِیمان په بدله کښ خرخووم. دا ئي چه واوریدل نو آقائے نامدار، د مدیني تاجدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دومره اوژړل چه اَهلِبَیت عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان هُم په ژړا شو. الله تَبَارَکَ وَتَعَالٰی وحي را اولیږله، اے زما محبوبه! تاسو غم مه کوئ! زه د ځنکدن په حالت کښ خپل بندګان د شیطان د مکر نه بچ کووم. (رُوحُ البَیان ج۱۰ ص۳۱۵ کوئټه)

ہر اُمّتی کی فکر میں آقا ہیں مُضطَرِب
غمخوار والدین سے بڑھ کر حضور ہیں
د هر اُمَّتي په فِکر کښ آقا دي بي قراره
غمخوار د مور او پلار نه دي زیات خوږ رسول

## د مور سترګي بِینا شوې

د تبلیغِ قُرآن و سُنَّت عالَمګیر غیر سیاسي تحریك دعوتِ اسلامي د تنظیمي تحصیل ګُلشنِ بغداد (بابُ الْمدینه کراچۍ) د یوې اسلامي خور

د بيان خُلاصه ده: زمونږ مور صاحبه (عُمر تقريباً ٦٠ کاله) چه سحر د خوبه رابيداره شوه نو د سترګو غړولو باوجود ئې هيڅ نه ليدل، مونږ ډير وارخطا شو او ډاکټر ته مو ښکاره کړه نو معلومات اوشو چه د هائي بلډ پريشر په وجه ئې د سترګو نُور تلې دې او بينائي ئې ختمه شوې ده ډيرو ډاکټرانو ته لاړو خو ټولو مايُوسه کړو. ؎

طبيبوں نے مريضِ لادوا کہ کے ٹالا ہے
بنا، ناکام ان کا عندیہ دو یا رسولَ اللہ

طبيبانو ګرځولې لاعِلاجه دا مريض دې
څه سبب جوړ کړئ د دوئې يَارَسُولَ الله

مور صاحبې په ډير يقين سره اووئيل چه ما مَدَني مرکز فيضانِ مدينه ته د اسلامي خويندو کيدونکي سُنَّتو نه ډکي اِجتِماع ته بوځئ اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی هلته به ما ته بِينائي نصيب شي. چنانچه مونږ دوه خويندو مور د لاسه اُونيوله او د اِتوار په ورځ د عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه په غېږه او فراخه ته خانه کښې د غرمې په وخت کښې کيدونکي هفته واره سُنَّتو نه ډکه اجتِماع ته مو بوتله. هلته کيدو والا زړه نرموونکي او ژړوونکي دُعا مونږه ښه اوژړلو، مور صاحبې ډير زيات ژړل. **ناڅاپه د هغې په سترګو کښې بريښنا**

**شان اوشوه او د مَدَني مرکز فيضانِ مدينه فرش ئې صفا اوليدو، بس بيا ئې يو دم سترګې پوره روښانه شوې.**

سنّت کی بہار آئی فیضانِ مدینہ میں ... رحمت کی گھٹا چھائی فیضانِ مدینہ میں
ناقص ہے جو سُنوائی، کمزور ہے بینائی ... مانگ آکے دعا بھائی فیضانِ مدینہ میں
آفت میں گھرا ہے گر، بیمار پڑا ہے گر ... آ کر لے دعا بھائی فیضانِ مدینہ میں

د سُنَّتو سپرلي راغي فيضانِ مدينه کښ
د رحمت وريځې راغلې فيضانِ مدينه کښ

که درونډ ئې په غوږو، کمزورې دِ نظر وي
دُعا اوغواړئ راشئ فيضانِ مدينه کښ

که پروت ئې بيمار يا ګير ئې په آفت کښ
وروره اوکړئ دُعا راشئ فيضانِ مدينه کښ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ... صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَى اللّٰه! ... اَسْتَغْفِرُ اللّٰه!
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ... صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## نیك او نمونځ ګزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د نمانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتِماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِیَّتونو سره ټوله شپه تیروئ ۞ د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او ۞ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذرِیعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکُم تاریخ ئې د خپل ځائ ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ. د خپل ځان د اصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار په "**مَدَني قَافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ










www.dawateislami.net

مكتبة المدينة
MAKTABA TUL MADINAH
MC 1286


فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net